عمومي اسامبله

امنيت شورا

خپریدل: عمومي

۱۴ جون ۲۰۱۹

اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**درې اویایمه ناسته**
د اجنډا ۴۰ ماده
**د افغانستان حالت**

**د امنيت شورا**
**څلور اویایم کال**

# د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

### لومړی. پیژندنه

۱. اوسنی راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنيت شورا د ۲۴۶۰ (۲۰۱۹) پریکړه لیک په تعقیب، په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د وضعیت په اړه راپو ر ورکړي، وړاندې کیږي.

۲. زما د مخکني راپور (A/73/777–S/2019/193) له خپریدو راهیسې، چې د ۲۰۱۹ کال د فبروري پر ۲۸ خپور شو، دغه راپور د سیاسي، بشري، پرمختیايي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم. اړوند پرمختګونه

۳. د سولې او ټاکنیزو پروسو په برخه کې تحولاتو پر سیاسي چاپیریال باندې خپل اغیز ته دوام ورکړ. د ټاکنو مدیریت کوونکو ادارو د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر د ولسي جرګې ټاکنو پایلې تر میاشتو ځنډ وروسته نهایي کړې، او د ۲۰۱۱ راهیسې د لومړي ځل لپاره نوی پارلمان پرانستل شو. د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون لپاره نوي کمیشنران ټاکل شوي، او دواړو کمیسیونونو د ۲۰۱۹ کال د ولسمشریزو ټاکنو لپاره چمتوالي پیل کړي، د کومو د ترسره کیدو نیټه چې د سپتمبر ۲۸ ته ځنډول شوې. دولت یوه ستره مشورتي ناسته ترسره کړه چې هدف یې د سولې او بین الافغاني پلان شوي ډیالوګ په اړه د ملي اجماع رامنځ ته کول و، په پام کې وه چې دواړه د دولت او طالبانو استازي به په دغې ناسته کې ګډون وکړي، خو د ګډونوالو پر سر تر اختلافاتو وروسته وځنډول شوه. دولت له اداري فساد سره د مبارزې خپلې هڅې چټکې کړي او د عدلي سکتور د اصلاحاتو په برخه کې يې ګامونه پورته کړي. په داسې حال کې چې دواړو دولت او طالبانو د پرغلیزو عملیاتو اعلان وکړ، امنیتي وضعیت لا اوس هم بې ثباته دی. په داسې حال کې چې د ځانمرګو بریدونو د کموالي له امله د ملکي تلفاتو عمومي شمیر د پام وړ راکم شوی، خو د هوايي او ځانیزو عملیاتو او د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د غیر انتحاري وسیلو

له امله د ولسي وګړو مرګ ژوبله مخ په لوړېدو ده. له ایران څخه د زیات شمېر راستنیدونکو سره مل، د جګړې او طبیعي ناورینونو له امله د لوړې کچې له دوامداره بېځایه کېدنې سره بشري وضعیت لا اوس هم جدي دی.

**الف. سیاسي پرمختګونه**

۴. څرنګه چې د سولې او ټاکنیزو پروسو په برخو کې پرمختګونه ګړندي شوي، د سیاسي چاپېریال بې ثباتۍ دوام درلود. په فبروري میاشت کې د پخوانیو انتخاباتي کمیشنرانو تر ګوښه کېدو وروسته، له ولسمشریزو نوماندانو، سیاسي ګوندونو او د مدني ټولنې له سازمانونو سره تر سلا مشورو وروسته، د افغانستان ولسمشر اشرف غني د مارچ پر ۳ نېټه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لپاره اووه نوي کمیشنران او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون لپاره پنځه کمیشنران، او دغه راز د دواړو کمیسیونو د دار الانشاء لپاره نوي رییسان وګمارل. د مارچ پر ۵ نېټه، حوا علم نورستاني د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او زهرا بیان شینواري د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د رییسانو په څیر وټاکل شوې، چې په لومړي ځل د دواړو ادارو لپاره د ښځینه مشرانو ګمارنه په ډاګه کوي. د اپریل پر ۲۴، ښاغلي غني د یوه فرمان په لاسلیک کولو سره د هر یوه کمیسیون لپاره دوه نړیوال انتصابي (غیر انتخابي) کمیشنران وګمارل، څرنګه چې یې د انتخاباتو قانون د فبروري په تعدیلاتو کې پیش بیني شوې وه. د مئ پر ۶، د لوي څارنوال دفتر اعلان وکړ چې نوموړي دفتر د ټاکنو د پخوانیو کمیشنرانو او نورو انتخاباتي چارواکو د جنايي قضیو په تړاو له سترې محکمې غوښتنه کړې.

۵. په ورته وخت کې د ټاکنو تنظیموونکو ادارو د ولسمشریزو ټاکنو لپاره تخنیکي تیارۍ جاري ساتلې. د اپریل پر ۲۳، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون اعلان وکړ چې نوموړي کمیسیون د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د چاڼ پروسه بشپړه کړې او د ابتدايي لیست د ۱۸ نوماندانو د هیڅ یوه په ضد یې کوم شکایت نه دی ترلاسه کړی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د نوماندانو په اړه نهایي لیست د اپریل پر ۲۵ خپور کړ.

۶. د راپور ورکولو د مودې په زیاتره برخه کې د انتخاباتي ټکنالوجۍ د کارونې پر سر اختلافاتو دوام درلود، چې په ټاکنیزو تیاریو کې د لا زیات ځنډ لامل شوي. د ټاکنو له تعدیل شوي قانون سره سم، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د تکنالوجي کارونې پلټلو ته د پام وړ وخت ځانګړی کړی. د دغو هڅو په ملاتړ کې، د یوناما ډونر- له خوا مرسته شوي د ټاکنو د ملاتړ ګروپ (ESG) د ټکنالوجي د لوړ رتبه ماهرینو یوه لیدنه تسهیل کړه څو د ممکنه انتخابونو په اړه سلا مشورې ورکړي، چې د ټکنالوجۍ د پیاوړې شوې کارونې او پر وخت د ټاکنو لپاره زمینه برابره کړي. دغه ارزونه له کمیسیون سره د اپریل پر ۲۴ شریکه شوه، چې په پایله کې یې په ډاګه شوه چې د رایه ورکوونکو د بایو مټریک ثبت د مناسب تطبیق لپاره له ۱۸ تر ۲۴ میاشتو وخت ته اړتیا ده، او د دغه چارې لپاره یې درې انتخابونه په ګوته کړل. د اپریل پر ۲۵، کمیسیون پریکړه وکړه چې د ټولو رایه ورکوونکو لپاره د بایو مټریک بشپړ ثبت ترسره کړي. له سیاسي ګوندونو، ولسمشریزو نوماندانو او د مدني ټولنې له سازمانونو سره له سلا مشورو وروسته او د کمې زماني مودې په رڼا کې، د ټاکنو کمیسیون د مئ پر ۱۳ پریکړه وکړه چې د رایه ورکوونکي له بایو مټریک تصدیق او د ۲۰۱۹ کال ټاکنو لپاره د بریښنایي پایلو له لېږد سره به د بایو مټریک ثبت پر ځای به

د رایه ورکوونکو د "تقویتی" نوم ثبتونې کاغذي طریقه تعقیبوي. د مۍ پر ۱۸، کمیشنر اورنګزیب اعلان وکړ چې په ۴۵۸ ثبت مرکزونو کې د ۱۵ ورځو لپاره د رایه ورکوونکو د نوم ثبتونې تقویتي پلان شوې پروسه د مۍ له ۱۶ نېټې څخه د جون ۸ نېټې ته ځنډول شوې.

۷. د ټاکنو د تنظیمونکو ادارو بیا جوړونه، د ټاکنو په تعدیل شوي قانون کې نوي احکام او پارلماني ټاکنو د پایلو نهايي کول د ولسمشریزو ټاکنو د لا زیات ځنډ لامل شوي. د مارچ پر ۲۰، د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان کړه چې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو او په غزني ولایت کې د ځنډول شویو پارلماني ټاکنو د ترسره کیدو نېټه د جولای له ۲۰ د سپتمبر ۲۸ ته ځنډول شوې. د ولسوالیو د شورا ټاکنو چې په پیل کې ټاکل شوې وه چې د ۲۰۱۸ د اکتوبر له پارلماني ټاکنو سره به یو ځای ترسره کیږي او بیا وروسته وځنډول شوې، په اړه کومه یادونه و نه شوه. دغه اعلان د ولسمشریزو نوماندانو او سیاسي مخالفینو ګډ غبرګونونه راوپارول، چې ځینو یې یو ځل د موقتي ادارې د رامنځ ته کیدو غوښتنه وکړه. په داسې حال کې چې د مدني ټولنې سازمانونو د ټاکنیزو تیاریو لپاره د اضافي وخت هرکلی وکړ، ولسمشریزو نوماندانو او سیاسي ګوندونو د نوې نېټې په اړه د سلا مشورو د نشتون له امله نیوکه وکړه. وروسته بیا د مۍ پر ۲۹، کمیسیون پریکړه وکړه چې د سپتمبر پر ۲۸ یوازې ولسمشریزې ټاکنې ترسره کړي او د ولایتي شوراګانو ټاکنې او د غزني ولایت د چوکیو لپاره پارلماني ټاکنې بلې نېټې ته وځنډوي.

۸. د اپریل پر ۱۸، د ولسمشریزو نوماندانو ۱۱ کسیز ګروپ، د ملي امنیت د پخواني مشاور حنیف اتمر او د ملي امنیت د ریاست د پخواني رییس رحمت الله نبیل د ولسمشریزو نوماندانو د شورا د جوړیدو او د مۍ له ۲۲ وروسته د موقت حکومت د ترتیباتو د پلټلو د ارادې اعلان وکړ، د دوي په اند له کومې وروسته چې د ولسمشر کاري موده د اساسي قانون له مخې پای ته رسیږي. د ولسمشر د دفتر له خوا د یوه نظر د غوښتنې په غبرګون کې، د سترې محکمې عالي شورا د اپریل پر ۲۱ یو قضایي قرار خپور کړ چې د ولسمشر او د هغه د مرستیالانو کاري موده د نوي ولسمشر تر ټاکلو پورې تمدیدوي او دا کار یې له اساسي قانون سره په سمون کې باله، چې په دې برخه کې یې د ۲۰۰۹ کال د ورته حالاتو او د ثبات او ملي یووالي د اړتیا یادونه کوله. پر دغې پریکړه د ولسمشریزو نوماندانو شورا او د بلخ د پخواني والي په ګډون سیاسي مخالفینو نیوکه وکړه، او دغه پریکړه یې نا قانونه او د سیاسي انګیزې لرونکې بللې. د مۍ پر ۲۰ په یوه مطبوعاتي کنفرانس او د غړو له خوا په اعلامیو کې، شورا د ممکنه راتلونکې مدني نافرمانۍ اخطار ورکړ، که چیرې یې وړاندیزونه په پام کې و نه نیول شي. د مۍ له ۲۳ را په دیخوا د کوم لاریون په اړه راپور نه دی ورکړل شوی.

۹. د دفاع وزارت د دوه مرستیالانو د ۱۷ ولایتونو لپاره د امنیه قوماندانانو او د ملي امنیت په شورا کې د دریو نوو مرستیالانو په ګډون، ولسمشر غني د راپور ورکولو په موده کې یو لړ لوړ پوړې امنیتي ګمارنې ترسره کړې. په داسې حال کې چې ولسمشر دغه ګمارنې د اصلاحاتو د اجنډا د پرمخ بیولو په څیر په ګوته کړې، سیاسي مخالفینو تر ولسمشریزو ټاکنو مخکې د امنیتي سکتور د ښکاره سیاسي کولو په اړه اندیښنې څرګندې کړې.

۱۰.	په ورته ډول، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون په زیات شمیر ولایتونو کې د بیا شمیرنې د دوامداره پروسو وروسته د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر د پارلماني ټاکنو د پایلو نهایي کول جاري ساتلي. له اړوندو اړخونو سره تر سلا مشورو وروسته، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د اپریل پر ۲۵ د کابل ولایت لپاره د رایو ټولې بیا شمیرنې باطلې اعلان کړې او د پایلو د اصلي فورمو بیاکتنه یې پیل کړه. وروستۍ پایلې، په پارلماني لیست کې له څلورو بدلونونو سره د مۍ پر ۱۴ اعلان شوې. په دغه اعلان سره له ټاکنو شاو خوا شپږ میاشتې وروسته د ولسي جرګې د ټاکنو تایید شوې وروستۍ پایلې د ټولو ۳۵ ګډونوالو انتخاباتي حوزو لپاره خپرې شوې. یو شمیر نا کامیابو نوماندانو او ملاترو د دغو پایلو په وړاندې د اعتراض غبر پورته کړ او د موضوع د حل لپاره یې د ځانګړې محکمې د جوړولو غوښتنه وکړه. د اپریل پر ۲۶، د کابل او غزني ولایتونو د انتخاباتي حوزو له استازو پرته نوی پارلمان پرانستل شو. د کابل ولایت استازو د مۍ پر ۱۵ لوړه وکړه.

۱۱.	د پورتنیو حالاتو ترڅنګ، داخلي او نړیوالو فعالینو د یوه مذاکره شوي سوله ییز حل په لور خپلې هڅې جاري ساتلي. د اپریل پر ۷، دولت له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره له سیاسي اړخه د یوه ټول شموله ټیم جوړیدو په موخه د سولې او پخلاینې لپاره د رهبرۍ د ۳۷ کسیزې شورا د تاسیس او د خبرو اترو د ۲۲ کسیز ټیم د جوړونې اعلان وکړ. په دغو دواړو ارګانونو کې سیاسي مخالفین او ښځینه استازې شامل دي. د اپریل پر ۲۹، حکومت په کابل ښار کې د سولې په اړه یوه مشورتي لویه جرګه دایره کړه. په جرګه کې د پارلمان او د ولایتي شوراګانو غړو په ګډون چې د دندو د اقتضا پر اساس یې په دې جرګه کې برخې اخیستې وې، له ټول هیواد څخه له ۳۰۰۰ څخه زیاتو استازو ګډون کړی و، او د دغې پنځه ورځنۍ جرګې موخه له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د حدودو ټاکل و. اجرائیه رییس عبد الله عبد الله او د ولسمشریزو نوماندانو په ګډون زیاتره سیاسي مخالفینو له جرګې سره پریکون وکړ او ادعا یې کوله چې جرګه د ولسمشر غني د بیا انتخابیدو لپاره د کمپاین په موخه جوړه شوې. له سختو امنیتي تدابیرو سره جرګه له کومې امنیتي پیښې پرته ترسره شوه. جرګې یو پریکړه لیک خپور کړ چې د نورو تر څنګ یې د اوربند، له شرط او قید پرته د خبرو اترو، په افغانستان کې د طالبانو د دفتر د پرانستلو، له هیواد څخه د نړیوالو ځواکونو د مسوولانه وتلو، د مذاکراتو لپاره د یوه ټول شموله ټیم د جوړولو، له نړیوالې ټولنې څخه د دوامدار ملاتړ او د بشري حقونو په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو د ساتنې غوښتنه کوله. د هغه په اختتامیه وینا کې، ښاغلي غني یو ځل بیا د دې یادونه وکړه چې د طالبانو له خوا د بالمثل اقدام په صورت کې د اوربند غوښتونکی دی او د باور جوړونې د یوه اقدام په څیر یې د ۱۷۵ طالب بندیانو د خوشې کولو وړاندیز وکړ. د اپریل پر ۲۸ په جرګه کې له ګډون سره له پریکون وروسته، طالبانو د مۍ پر ۳ په یوه اعلامیه کې د جرګې پایله او د اوربند غوښتنه رد کړې.

۱۲.	د سولې په پروسه کې د موثر ګډون د عملي کولو په موخه افغان میرمنو په خپلو هڅو کې پرمختګ کړی. په ۳۴ ولایتونو کې له ۱۵۰۰۰ افغان ښځو سره تر شپږ میاشتنیو سلا مشورو وروسته، د فبروري پر ۲۸ د لومړۍ میرمن دفتر د سولې د عالي شورا، د ښځو چارو د وزارت، د افغان ښځو د شبکې او د مدني ټولنې د نورو سازمانونو په ملاتړ د سولې لپاره افغان ښځو په اړه یو ملي کنفرانس دایر کړ. په کنفرانس کې، افغان ښځو ولسمشر غني ته د ۱۵ ټکو یوه پریکړه وسپاره، چا چې د دغه پریکړه لیک احکام په مشورتي لویه جرګه او د سولې

په خبرو اترو کې په پام کې نیولي وو. نیږدې د مشورتي لویې جرګې ۳۰ سلنه جوړوله، له ۵۰ کمیټو څخه یې د ۱۳ هغو مشري کوله او له پنځو مرستیالانو څخه دوه یې د جرګې د مرستیالانو په څیر ټاکل شوې وې.

۱۳. د اپریل په نیمه یې کې، داخلي او نړیوالو شریکانو په دوحه کې د افغان سیاستوالو، د مدني ټولنې فعالینو، دولتي چارواکو چې په خپل شخصي ظرفیت ګډون کوي او طالبانو ترمنځ د بین الافغاني ډیالوګ د تنظیمولو هڅه کړې. که څه هم د غونډې لپاره تیاریې د ګډونوالو د لیست پر سر د شخړو له امله وپاشل شوې. د اپریل پر ۱۸، د دوحې انستیتیوت د شخړو او بشري مطالعاتو مرکز چې د دغه کنفرانس کوربتوب یې کاوه، د خبرو اترو د ځنډېدو اعلان وکړ. د دې په تعقیب په جلا جلا اعلامیو کې، افغان دولت او طالبانو د مذاکراتو لپاره د خپلو اړوندو شرایطو په اړه نه توافق ته په رجوع سره، خپلې پریکړې توجیه کړې. له دې سره سره، د مئ پر ۲۸ د پخواني ولسمشر کرزي په ګډون د افغان سیاستوالو یو ۲۴ کسیز پلاوي د طالبانو له ۱۴ استازو ترڅنګ په مسکو کې په یوه غونډه کې ګډون وکړ، چې د افغانستان او روسیې فدراتیف ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو ۱۰۰ کلیزه یې لمانځله. د طالبانو د پلاوي مشري ملا عبد الغني برادر کوله، څوک چې د ۲۰۱۹ په جنوري کې د طالبانو د سیاسي کمیسیون مشر او د تحریک د مشر مرستیال ټاکل شوی. له غونډې وروسته یو ځل بیا د مئ پر ۲۹، دواړه خواوو یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې د ځینو موضوعګانو په اړه یې د پرمختګ خبر ورکاوه، خو د لا زیاتو خبرو اترو او مباحثو اړتیا یې منله.

۱۴. د افغان سولې او پخلاینې لپاره د امریکا د متحده ایالاتو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په دوحه کې د فبروري له ۲۵ څخه د مارچ تر ۱۲ پورې، او بیا د مئ له ۱ څخه تر ۹ پورې له طالبانو سره خبرې اترې ترسره کړې. خبرو اتر له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو پر ایستلو او پر دې تضمیناتو متمرکزې وې چې افغانستان به د نړیوال تروریزم پر مرکز نه بدلیږي. د مارچ پر ۲۱ او ۲۲ په واشنګټن ډي سي او د اپریل پر ۲۵ په مسکو کې د چین د ځانګړي استازي دینګ شیجون (Deng Xijun)، او د روسیې د ولسمشر د ځانګړي استازي ضمیر کابلوف او ښاغلي خلیلزاد ترمنځ درې اړخیزې سلا مشورې ترسره شوې. تر وروستۍ ناستې وروسته یوه ګډه اعلامیه خپره شوه چې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت یې د سولې د ټول شموله پروسې لپاره ملاتړ په ډاګه کاوه. د مارچ پر ۲۶، د اروپایي اتحادیې د بهرنیو چارو او امنیتي پالیسۍ په اړه عالي استازې فیدریکا موګرینی له کابل څخه لیدنه وکړه، چیرې چې هغې د افغان سولې له پروسې څخه د ملاتړ لپاره د اروپایي اتحادیې د چمتوالي بیا یادونه وکړه. د اپریل پر ۲۳ په لندن کې په یوه غونډه د سولې پر هڅو د ښاغلي خلیلزاد او د فرانسې، جرمني، ایټالیې، ناروې، د بریتانیا او د شمالي ایرلند متحده پادشاهي او د اروپایي اتحادیې د استازو ترمنځ خبرې اترې ترسره شوې.

۱۵. د ښه ښو هڅو تر خپل ماموریت لاندې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د سولې پروسې، د ملکي وګړو د ساتنې او بشري لاس رسي اړوند موضوعاتو په اړه د طالبانو له سیاسي کمیسیون سره خپله ښکیلتیا جاري ساتلې. زما ځانګړي استازي له ملا برادر او د طالبانو د مذاکراتي ټیم له نورو غړو سره د اپریل پر ۲۵ لیدلي، څو د بین الافغاني خبرو اترو، دغه راز د ملکي وګړو د ساتنې او د بشري لاس رسي په اړه مباحثې

وکړي. په ځايي کچه، یوناما د خپلو ساحوي دفترونو له لارې له ټولنو او ځايي حکومتي چارواکو سره د ځايي سولې د ملاتړ او شخړې د حل هڅې او د سولې د ځايي نوښتونو تطبيقول جاري ساتلي. په ننګرهار ولايت کې، یوناما د شيرزادو په ولسوالۍ کې د دوو قومونو ترمنځ د روغې جوړې جرګه تسهيل کړه چې د اوبو د ويش د تنظيمولو د حل لارې په منلو تمامه شوه. د لومړي ځل لپاره ښځو په خپله په جرګه کې فعال رول ولوبوه.

**ب. امنيت**

۲۲. په دوامدار ډول د لوړ شمير امنيتي پيښو په درلودو سره امنيتي وضعیت لا اوس هم بې ثباته دی. د ۲۰۱۹ کال د فبروري د ۸ او مئ د ۹ ترمنځ، ملګرو ملتونو ټولټال ۵۲۴۹ امنيتي پيښې ثبتې کړي، چې د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۷ سلنه کموالی په ډاګه کوي. جنوبي سيمه د تر ټولو د لوړ شمير پيښو شاهده وه، چې په تعقيب يې ختيځې او لويديځې سيمې وې، چې دغه ټولې سيمې سره يو ځای د ټولو ثبت شويو پېښو ۷۱ سلنه جوړوي. د اپريل پر ۱۲ طالبانو د الفتح په نامه د خپلو پسرلنيو يرغليزو عملياتو د پيل اعلان وکړ، چې تمرکز يې د بهرني ښکيلاک پای ته رسول او "د اسلامي سيستم پر تاسيسولو" و. د طالبانو تر اعلان په وروسته ورځو کې په ټول هيواد کې د راپور شويو امنيتي پيښو شمير زيات شو.

۱۷. د ۳۲۰۷ وسله والو نښتو په درلودو سره چې د امنيتي پيښو پر فضا حاکمې وي او د ټولو پيښو ۶۱ سلنه جوړوي، رامنځ ته شوي جريانونه له کوم بدلون پرته پر خپل حال پاته دي. دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې سره په پرتله په وسله والو نښتو کې ۱۰ سلنه کموالی وړاندې کوي، چې په ډير احتمال ناوړه ژمنۍ هوا ته منسوب دی. د لاس جوړ چاوديدونکو وسيلو د کاروني اړوند پيښې د پيښو دويمه لوړه کټګوري ګڼل کيږي، خو د ۳ سلنې په اندازه لږ راکمې شوي. ځانمرګي بريدونه ۷۲ سلنه راکم شوي چې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو له خوا د مخه نيوونکو هڅو او د زياتو امنيتي تدابيرو ښکارندوی دي، په تېره بيا د کابل او جلال اباد په ښارونو کې. افغان هوايي ځواک او نړيوالو نظامي ځواکونو د ۳۰۵ ثبت شويو عملياتو سره لوړ شمير هوايي بريدونه جاري ساتلي، چې په ۲۰۱۸ کال کې له ورته مودې سره په پرتله ۱۲ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي.

۱۸. د اپريل پر ۲، دولت د دفاع وزارت د خالد په نامه عمليات منظور کړل. د امنيتي ځواکونو عمليات پر جنوبي سيمه؛ په ختيځ کې پر ننګرهار؛ په لويديځ کې پر فراه؛ په شمال ختيځ کې پر کندز، تخار او بغلان؛ په جنوب ختيځ کې پر غزني؛ او په شمال کې پر بلخ متمرکز وو. د لويو لارو په اوږدو کې د امنيت ښه کول لا اوس هم يوه ننګونه ده. د افغان او نړيوالو نظامي ځواکونو د هڅو د ملاتړ لپاره هوايي بريدونو دوام درلود. په هلمند او غزني ولايتونو کې هوايي بريدونه د راپور په موده کې د ټولو ترسره شويو هغو ۵۶ سلنه جوړوي.

۱۹. د طالبانو له خوا د الفتح عملياتو تر پيل وروسته، په ټول هيواد کې د جګړې تر ټولو فعالې سيمې په هلمند، فراه او غزني ولايتونو کې وې. طالبان په دې بريالي چې د لږ تر لږه دريو ولسواليو -ارغنج خوا په بدخشان، آبکمري په بادغيس او شاملزی په زابل کې- اداري مرکزونه په موقت ډول ونيسي. د بادغيس ولايت پر بالا مرغاب ولسوالۍ د طالبانو بريد د څلورو اونيو جګړې او د راپورونو له مخې د ۶۲ افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د

عناصرو د وژنې او ۵۶ نورو د اسارت لامل شو. سره له دې چې د ولایت مرکز ته کوم د پام وړ ګواښ نه و موجود، د مارچ پر ۲۱ د کندز ښار په شاو خوا سیمو کې د افغان او نړیوالو نظامي ځواکو ګډ عملیات د سختو نښتو او د ۲ نړیوالو او ۱۰ افغان سرتیرو د وژنې لامل شول.

۲۰. د تیر کال په ورته موده کې د ۲۶ بریدونو په پرتله د راپور په موده کې د ۸ راپور شویو بریدونو په درلودو سره، د لوړې کچې د بریدونو شمیر د پام وړ راکم شوي. د تیر کال په ورته موده کې د ۱۰ په پرتله په کابل ښار کې دوه بریدونه رامنځ ته شوي: د اپریل پر ۲۰ د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ پر وزارت یو ډله ییز برید چې مسوولیت یې د عراق او شام د اسلامي دولت- خراسان ولایت ډلې له خوا پر غاړه اخیستل شوی؛ او د مۍ پر ۸ د کاونټر پارټ نړیوالې اداري پر دفتر یو ډله ییز برید چې مسوولیت طالبانو پر غاړه اخیستی. دغه کموالی د ملکي اهدافو په مقابل کې د افغان امنیتي تسهیلاتو له پراخې هدف ګرځونې سره مل و. د هلمند ولایت په واشیر ولسوالۍ کې د مارچ پر ۱، د طالبانو یوه ځانمرګي بریدګر د شورابک کمپ په د ننه کې له چاودیدونکو توکو ډکه وسیله وچوله چې په تعقیب یې ۲۷ بریدګر د کمپ د دفاع په ماتولو وتوانیدل. دغې نښتې د ۳۷ ساعتونو لپاره دوام وکړ، مخکې تر دې چې افغان امنیتي ځواکونو بیس خوندي کړ. د دغې پیښې وروسته طالبانو یوه اعلامیه خپره کړه چې نوموړی بیس د ولسي وګړو په ضد د شپنیو عملیاتو لپاره کارول کیده. د ننګرهار ولایت په شیرزادو ولسوالۍ کې د اپریل پر ۱۲، طالبانو د ولسوالۍ پر اداري مرکز پراخ ډله ییز برید ترسره کړ.

۲۱. د افغان او نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د عراق او شام د اسلامي دولت- خراسان ولایت د مورچلو په وړاندې د زیات شمیر عملیاتو سره سره، نوموړې ډلې خپل شتون جاري ساتلی. د ۲۰۱۸ په وروستیو کې د پام وړ سیمو له لاسه ورکولو سره سره، نوموړې ډلې د ۲۰۱۹ له جنوري راهیسې په دواړو ولایتونو کې د طالبانو تر ولکې لاندې سیمو کې ګڼ شمیر یرغلیز بریدونه ترسره کړي، چې د راپورونو له مخې یې په کنړ ولایت کې یو شمیر ډګرونه ترلاسه کړي. د راپور ورکولو په موده کې، د تیر کال په ورته موده کې د ۱۴۵ په پرتله، ۱۱۳ پیښې داعش- د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي. سربیره پر دې، د تیر کال په ورته موده کې د نهو په پرتله، داعش- د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د راپور ورکولو په موده کې د دوو ځانمرګو بریدونو ادعا کړې، یو د مارچ پر ۶ نېټه پر یوه ساختماني شرکت چې د جلال اباد هوايي ډګر ته څېرمه یې موقعیت درلود او د اپریل پر ۲۰ په کابل کې پورته یاد شوي برید.

۲۲. د تهدیدونو د ۴ پیښو او د جنايي ۴ پیښو په ګډون، د راپور په موده کې ۱۱ داسې پیښې وي چې د ملګرو ملتونو کارمندان په کې شامل وو خو پرته له کومې وسله والې نښتې.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

۲۳. د افغان سولې او پرمختیايي هڅو په تړاو سیمه ییزه ښکیلتیا زیاته شوې. د فبروري پر ۲۱، ولسمشر غني د ترکمنستان له ولسمشر قربانقلي بردیمحمدوف سره په ترکمنستان کې ولیدل څو د دوه اړخیزه اړیکو، د سیمه ییز نښلون د پروژو او د سولې په پروسه کې د سیمې د رول په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د مارچ پر ۱۷ او

۱۸، ښاغلي غني له عرب متحده اماراتو څخه لیدنه وکړه چې د سوداګرۍ او پانګونې، پرمختیا، د بشري مرستو او سولې د نوښتونو په اړه خبرې اترې وکړي. د مارچ پر ۱۵ د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني له اندونیزیا څخه کتنه وکړه څو د دواړو هیوادونو ترمنځ د تړونونو د تطبیق او سولې د هڅو په اړه خبرې اترې وکړي. اندونیزیایي چارواکو یو ځل بیا د خپل چمتوالي یادونه وکړه چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مستقیمو خبرو اترو کوربتوب وکړي. د اپریل پر ۳۰، په یوې داسې هڅه کې چې مستقیمې خبرې اترې وهڅوي، د اندونیزیا د بهرنیو چارو وزیر ریتنو مارسودي، په دوحه کې له طالبانو سره وکتل.

۲۴. افغانستان او پاکستان د دوه اړخیزه مسلو او افغان سولې په اړه خپله ښکیلتیا جاري ساتلې، که څه هم د دواړو هیوادونو ترمنځ اړیکې یو څه ترینګلې وې. د مارچ پر ۲۵، پاکستاني رسنیو د دغه هیواد د صدر اعظم عمران خان هغه تبصرې خپرې کړې، چې ویل یې افغان حکومت د سولې پروسې په وړاندې یو "خنډ" دی او د موقتي ادارې جوړول به د سولې هڅو په پرمختګ کې مرسته وکړي. افغان دولت د دغو څرګندونو په اړه له پاکستان څخه خپل سفیر را وغوښت. د اپریل پر ۲۵، د افغانستان په اړه په یوه اعلامیه کې د پاکستان صدر اعظم په هیواد کې روان تاوتریخوالی وغانده او د دې ډاډ یې ورکړ چې پاکستان د خپلو ډیپلوماتیکو او امنیتي پانګې په کارونې سره د افغان سولې پروسې بریا ته ژمن دی، او هوډ یې څرګند کړ چې تر دې وروسته به پاکستان د افغانستان په داخلي شخړه کې د هیڅ لوري پلوي نه وي. د مئ پر ۵، د دواړو مشرانو ترمنځ د ټیلفوني اړیکې پرمهال، ولسمشر غني د صدر اعظم له خوا له پاکستان څخه د لیدنې بلنه ومنله.

۲۵. د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د همکارۍ زیاتیدل دوام درلود، د سولې اړوند هڅو په تړاو د چا ښکیلتیا چې د راپور ورکولو په موده کې زیاته شوې. د مارچ پر ۶، د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب له تاشکند څخه لیدنه وکړه، چیرې چې د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر عبد العزیز کاملوف ښاغلي محب ته له طالبانو او نورو اړوندو فعالینو سره د خپلو وروستیو ښکیلتیاوو په اړه معلومات وړاندې کړل. د مارچ پر ۳۱، ولسمشر غني په کابل له ښاغلي کاملوف سره ولیدل، چا چې د سولې خبرو اترو د کوربتوب لپاره د ازبکستان د چمتوالي یادونه وکړي. د پولې په اوږدو کې د سوداګرۍ او پانګونې د پیاوړې کولو په موخه د افغان-ازبک ترمنځ دوه اړخیزه اړیکې د چارواکو ترمنځ د بلخ (افغانستان) او سُرخان دریا (ازبکستان) پر پوله د لیدنو له لارې غښتلې شوې.

۲۶. دغه راز د څو اړخیزو غونډو له لارې ښکیلتیا دوام درلود. د ۲۰۱۹ کال د اسیا زړه- استانبول پروسې لومړۍ غونډه د فبروري پر ۲۷ په کابل کې ترسره شوه. ګډونوالو تر نوموړې پروسې لندې روان فعالیتونو د باور جوړونې د اقداماتو د ارزونې د مشق د یوې برخې په څیر وکتل او د ازبکستان د هغه وړاندیز هرکلی یې وکړ چې د ۲۰۱۹ په نومبر کې به د افغانستان په اړه د اقتصادي همکاریو د اتم سیمه ییز کنفرانس کوربتوب کوي. د پیل راهیسې د لومړي ځل لپاره، د شانګهاي د همکاریو سازمان د افغانستان د تماس ګروپ یوه ناسته چې د اپریل پر ۱۹ په بشکیک کې دایر شوې وه، د افغانستان په ګډه مشرۍ ترسره شوه. ګډونوالو له افغانستان او دغه راز د

افغان سولې پروسې له پرمختګ سره د همکارۍ په اړه مباحثې وکړې او تماس ګروپ د لار نقشې طرح يې د نورو اقداماتو لپاره بيا وکتله.

**درېيم. بشري حقونه**

.۲۷ د اپريل پر ۲۴، يوناما د ۲۰۱۹ کال د لومړۍ ربعې لپاره په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه خپل راپور خپور[1] کړنوموړي اداري د جنوري له ۱ د مارچ تر ۳۱ پورې ۱۷۷۳ ملکي تلفات (۵۸۱ مړه او ۱۱۹۲ ټپي) مستند کړي، چې په ۲۰۱۸ کال کې له ورته مودې سره په پرتله ۲۳ سلنه کموالي په ډاګه کوي. دغه کموالی عمدتا له ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو څخه په ملکي تلفاتو کې د ۷۶ سلنه کموالي له امله رامنځ ته شوی. يوناما د ملکي تلفاتو ۵۴ سلنه دولت ضد عناصرو (۳۹ سلنه طالبانو، ۱۲ سلنه داعش-د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې او ۳ سلنه نه معلومو ډلو) ته منسوب کړي. شاو خوا ۳۴ سلنه دولت پلوه ځواکونو (۱۷ سلنه افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو، ۱۳ سلنه نړيوالو نظامي ځواکونو، ۲ سلنه دولت پلوه مليشو او ۲ سلنه ګڼ دولت پلوه ځواکونو) ته منسوب کړي، او ۱۲ د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د څمکنيو نښتو پر مهال هيڅ لوري ته نامنسوب شويو د ډزو تبادلې او د نورو پيښو له امله رامنځ ته شوي. زياتره ملکي تلفات دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي؛ خو بيا هم د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربع کې دولت پلوه ځواکونه د دولت ضد عناصرو په پرتله د زياتو ملکي مړينو مسوول دي.

.۲۸ ځمکنيو نښتو ۶۱۶ ملکي تلفات (۱۳۴ مړه او ۴۸۲ ټپي) اړولي، چې د ټولو تلفاتو ۳۵ سلنه جوړوي. د لاس جوړ چاوديدونکو توکو انتحاري او غير انتحاري وسيلو کارونه د ۵۰۰ ملکي تلفاتو (۷۶ مړه او ۴۲۴ ټپي) لامل شوې، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۸ سلنه تشکيلوي. د لاس جوړ چاوديدونکو توکو د غير انتحاري وسيلو له امله ملکي تلفات ۲۱ سلنه لوړ شوي. يوناما له هوايي عملياتو څخه ۲۲۸ ملکي تلفات (۱۴۵ مړه او ۸۳ ټپي) چې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۳ سلنه جوړوي او له چاپيزو عملياتو څخه ۱۰۲ ملکي تلفات (۷۲ مړه او ۳۰ ټپي) چې د ټولو ملکي تلفاتو ۶ سلنه جوړوي، مستند کړي. يوناما د ماشومانو ۵۸۲ تلفات (۱۵۰ مړه او ۴۳۲ ټپي) مستند کړي. د مئ پر ۸ د کاونټر پارټ نړيوالې موسسې د ودانۍ په ضد په يوه ډله ييز بريد کې، ۸ ولسي وګړي ووژل شول او ۲۷ نور ټپي شول. طالبانو د دغه بريد مسووليت پر غاړه اخيستی.

.۲۹ د جنوري د ۱ او مارچ د ۳۱ ترمنځ، په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په ضد د سختو سرغړونو د څارنې او راپور ورکونې هيوادني کاري ځواک د راپور ورکونې د تيرې مودې د ۶۹ پيښو په پرتله، چيرې چې طالبانو هغه ښوونځي په نښه کړي وو چې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر د پارلماني ټاکنو لپاره د انتخاباتي مرکزونو په څير کارول شوي وو، د ښوونځيو او اړوندو پرسونلو د هدف ګرځولو ۱۸ پيښې تاييد کړي (۱۴ د ښوونيزو مرکزونو په ضد او ۴ د اړوند پرسونلو په ضد). دغه کاري ځواک ۱۲ پيښې دولت ضد عناصرو (۱۱ طالبانو او ۱ داعش- د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې)، ۵ دولت پلوه ځواکونو (۲ افغان ملي اردو، ۱ نړيوالو نظامي ځواکونو، ۱ په ګډون

[1] دغې انټرنيټ پاڼې څخه ليدنه وکړئ: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports .

افغان ملي اردو، افغان ملي پولیسو او دولت پلوه ملیشه ډلې ته) او ۱ پیښه په ګډه افغان ملي اردو او طالبانو ته منسوب کړي.

۳۰. هیوادني کاري ځواک د راپور ورکوني د تیرې مودې د پنځو پیښو په پرتله چې ۱۱ هلکان په کې شامل وو، د ماشومانو د تښتونې دوه پیښې تایید کړې چې ۴ هلکان په کې شامل وو (یوه هغه

د طالبانو له خوا چې ۳ هلکان په کې شامل او یوه د افغان ملي پولیسو له خوا چې ۱ هلک په کې شامل و). دغه هیوادني کاري ځواک همدارنګه د ماشومانو د ګمارنې او کارونې دوه پیښې تایید کړې چې څلور هلکان په کې شامل وو (یوه پیښه د طالبانو له خوا چې درې هلکان په کې شامل او یوه پیښه د افغان ملي پولیسو له خوا چې ۱ هلک په کې شامل و). سربیره پر دې، هیوادني کاري ځواک د دولت پلوه ځواکونو له خوا د هلکانو په ضد د جنسي تاوتریخوالي دوه پیښې تایید کړې (دواړه یې د افغان ملي پولیسو له خوا، چې دوه هلکان په کې شامل دي). وروسته له دې چې د مارچ پر ۵ د ولسمشرد یوه فرمان له لارې یې مسوده توشیح شوه، د مۍ پر ۵، افغان دولت د ماشومانو د حقونو د ساتنې په اړه یو قانون پر تصویب کړ.

۳۱. یوناما د راپور ورکولو په تیره موده کې د تایید شویو ۱۲ پیښو په پرتله، ۲۶ داسې پیښې تایید کړې، چې روغتیا او اړوند روغتیایي کارمندان یې اغیزمن کړي (۱۶ پیښې د روغتیایي مرکزونو په ضد او ۱۰ پیښې د اړوندو روغتیا پالنې د کارمندانو په ضد). کاري ځواک د طالبانو له خوا ۶ هغو پیښو په ګډون چې ۸۸ روغتیایي مرکزونو تړل کیدو او د دریو روغتیایي پرسونلو د تښتونې لامل شوې، ۱۸ پیښې دولت ضد عناصرو (۱۷ طالبانو او ۱ نا معلومې وسله والې ډلې ته)، او ۷ پیښې دولت پلوه ځواکونو (۲ افغان ملي اردو، یوه هر یوه افغان سیمه ییزو پولیسو، د ملي امنیت ریاست او نړیوالو نظامي ځواکونو، او ۲ نا معلومو دولت پلوه ځواکونو) ته منسوب کړي. یوه پیښه په ګډه دولت پلوه ځواکونو او مخالفو وسله والو ډلو ته منسوب شوې.

۳۲. د اپریل پر ۱۲، د نړیوالې جنایي د محکمې له محاکمې وړاندې دویمې خونې (Pre-Trial Chamber II) په یوه غږ هغه غوښتنه رد کړه چې د ۲۰۱۷ کال د نومبر پر ۲۰ د څارنوال له خوا وړاندې شوې وه څو په افغانستان کې د بشریت په ضد او د جنګي جرمونو ادعا شوي تورونه وڅیړي. قاضیانو پریکړه وکړه چې په اوسني پړاو کې د افغانستان د وضعیت څیړنه به د عدالت ګټې خوندي نه کړي.

۳۳. د اپریل په ۱۷، یوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر د شخړې اړوندو توقیفیانو سره د چلند او د شکنجې د له منځه وړلو په اړه یو عمومي راپور خپور کړ چې د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ نیټې څخه د ډسمبر تر ۳۱ نیټې پورې موده رانغاړي.[2] د ټولټال ۶۱۸ مرکه شویو توقیفیانو له جملې څخه، ۳۲ سلنو هغو د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو سره د توقیف پر مهال د شکنجې، غیر انساني یا له تحقیره ډک چلند د نورو ډولونو سره د مخ کیدو په اړه اتباري معلومات ورکړي. که څه هم چې د ۲۰۱۶ کال راهیسې یوناما د شکنجې د قضیو په شمیر کې کموالی مستند کړی، یوناما د شخړې سره د تړلو توقیفیانو پر وړاندې د شکنجې او ناوړه چلند د کارونې په اړه، چې زیاتره یې د افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت د ریاست له خوا په اداره شویو

[2] وګورئ. www.ohchr.org/Documents/Countries/AF/PreventingTortureReportApril2019.pdf

مرکزونو کې تر توقیف لاندې وو، د خپلو روانو اندیښنو په اړه یادونه کوي. راپور همدا راز د مهمو طرزالعملي خوندیتوبونو د پلي کولو په برخه کې ، د بیلګې په توګه، قانون پوهانو ته د لاسرسي او د مرتکبینو لپاره د احتساب د دوامداره نه شتون په برخه کې سرغړونې او ننګونې مستندې کړې.

۳۴. حکومت د ښځو د حقونو د ترویج او ساتنې په حواله نور اقدامونه ترسره کړي. د مارچ په ۴، د کابینې د جنډر کمیټې د ښځو د میراث او ملکیت د مالکیت په اړه د پالیسي د پلي کولو په تړاو د اړوندو وزارتونو سره یو تفاهم لیک لاسلیک کړ او په اصولو کې یې دوه پالیسي ګانې: په جګړه او بیړنیو حالتونو کې د ښځو د ساتنې په اړه پالیسي او په ټولټاکنو کې د ښځو د مشارکت د زیاتوالي په اړه پالیسي تصویب کړې. د اپریل په ۷، عدلیی وزارت د کابینې تقنیني کمیټې ته د کورني قانون یوه مسوده وړاندې کړه. د اپریل په ۱۷، د خشونت څخه د مخنیوي او عامه پوهاوي کاري ډلې، چې په ترکیب کې یې حکومت، ملګري ملتونه او د مدني ټولنې سازمانونه شامل دي د ښځو د ساتنې د مرکزونو لپاره د ښځو د چارو د وزارت وړاندیز تصویب کړ.

۳۵. د مارچ د میاشتې د ۴ او ۱۴ تر منځ، یوناما د ښځو د نړیوالې ورځې د لمانځلو په مناسبت اته پیښې تنظیم کړې. د ګردي میزونو او د هیئت د غړو د خبرو اترو په شمول، په دې پیښو کې د ښځو او نجونو د حقونو د مسلو، د بیلګې په توګه، معارف او سپورټ ته د لاسرسی، د ښځو او نجونو پر وړاندې د خشونت د جرمونو د له منځه وړلو، د کم عمر او اجباري ودونو، جنسي تیري او په بدو کې د ورکړې د دود په برخه کې ، چیرې چې د کورنیو د خپلمنځي شخړو د هوارولو په موخه نجونې تبادله کیږي، پوهاوی لوړ کړې. د مارچ په ۱۴، ملګرو ملتونو په کابل کې د "واحد ملګرو ملتونو" د عامه پیښې تر سرلیک لاندې کومې چې په بیلابیلو مسلکي ډګرونو کې د افغان ښځو رول ماډلونه څرګند کړل، د ښځو نړیواله ورځ ولمانځله.

۳۶. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په افغانستان کې د سولې او امنیت په چارو کې د ښځو د نقش په اړه د خپل ملي تحقق د یوې برخې په حیث، په مارچ کې د هیواد په ۳۳ ولایتونو کې د عامه اوریدنو ناستې دایرې کړې. یوناما په کابل، بامیانو، هرات، هلمند او کندهار ولایتونو کې د اوریدنو په ناستو کې ګډون وکړ چیرې چې یوناما د سولې او امنیت په چارو کې د بشري حقونو او د ښځو د حقونو د ترویج او ودې لپاره مدافعه وکړه. ګډون کونکو وویل چې د بشري حقونو په ارزښتونه مباحثې او خبرې اترې نه کیږې، ښځې باید د سولې د بهیر په ټولو پړاونو کې حضور ولري او سوله باید د جګړې د قربانیانو لپاره د عدالت چارې تضعیف نه کړي.

۳۷. خبریالان او د رسنیو کارکونکي په دوامداره توګه د شخړې د تړلې خشونت سره مخ دي. د راپور ورکولو د مودې پر مهال، یوناما درې داسې پیښې مستندې کړې د کومو په نتیجه کې چې یو خبریال وژل شوی او بل ټپي شوی او یوې ښځینه خبریالې ته د دولت ضد عناصرو له خوا ګواښونه شوې. د دې علاوه، د یوې ښځې په شمول، پنځه خبریالان او د بشري حقونو مدافعین، د هغو له جملې څخه څلور تنه د د دولت پلوه ځواکونو او چارواکو له خوا وهل شوي، نیول شوي یا ګواښل شوي. یوناما همدارنګه د خبریالانو او بشري حقونو د مدافعینو د نقش، غیر رسمي عدالت او بشري حقونو، سولې جوړونې او د سولې په پروسه کې د ښځو د نقش او د بشري حقونو اصولو ته د مسیر ورکولو په اړه نهه پیښې تنظیم کړې.

**څلورم: همغږي او پراختیایي مرستې**

۳۸. دولت او کلیدي پرمختیایي همکارانو د افغانستان په اړه د ژنیو د وزیرانو د کنفرانس د ژمنو د پلي کولو هڅو ته چې د ۲۰۱۸ کال د نومبر په میاشت کې دایر شو، ادامه ورکړه. د سولې لپاره د ټولنیزې اقتصادي اړتیاوو په اړه سلا مشورې، د ګډې اعلامیې د ۱۵ پراګراف سره سم کوم چې د کنفرانس څخه را منځ ته شوې، او په کابل کې یې دوام وموند، او د مارچ په ۱۳، په یوه ناسته کې چې په واشنګټن ډي سي کې د نړیوال بانک د کلنۍ پسرلنۍ ناستې په څنډه کې دایره شوه، د افغانستان د مالیې وزیر په شمول، ګډون کونکو د نوښت څخه ملاتړ وکړ او د حکومت د پرمختیایي اجنډا سره په سمون کې د تل پاته او ریښتنې پراختیایي پلان جوړونې د مسیر ټاکلو په اړه د مرستې لپاره د جامع خبرو اترو غوښتنه وکړه.

۳۹. حکومت د خپلې سیمه ییزې حکومتولۍ د پالیسي د پلي کولو په لور چې سرلیک یې "په وګړو متمرکزه حکومتداري دی نور ګامونه اتخاذ کړل: د سیمه ییزو اصلاحاتو لپاره د لارې نقشه." د فبروري په ۱۹، ولسمشر

غني د ولسواليو د حکومتدارۍ په اړه یو امر صادر کړ څو له دې لارې د واک د تفویض چارې ښې شي، او د ولسوالیو ادارو ته د سرچینو د لا مساوي تخصیص لار برابره کړي. د مارچ په ۵، ښاغلي اشرف غني د یوه تقنیني فرمان له لارې د محلي شوراګانو په اړه قانون تصویب کړ. دا قانون د ولایتي، ولسوالیو او کلیو د شوراګانو نقش او مسؤلیتونه روښانه کوي، او موخه یې د محلي حکومت د پراختیایي پروګرامونو د ډیزاین او پلي کولو په برخه کې د عامه ګډون هڅول او د محلي شورا ګانو د نظارت لپاره د تسهیل د چارو برابرول دي.

۴۰. دولت د عامه اداري د اصلاحاتو په برخه کې پرمختګ ته دوام ورکړی. د فبروري په ۴، کابینې یوه اصلاح شوې پالیسي چې په ملکي خدمتونو کې د میرمنو شمیر زیات کړي، کومې چې د ۲۰۱۹ لپاره نوي اهداف چمتو کړي، تایید کړه. د اپریل په ۲، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۸ لپاره خپل کلنی راپور خپور کړ، کوم چې ، په ۲۰۱۷ کال کې د نږدې ۱۸۰ ورځو څخه بیا په ۲۰۱۸ کال کې تر ۴۵ ورځو پورې د ملکي کارکونکو د استخدام په وخت کې د کمښت، او د بشري سرچینو د مدیریت د معلوماتو د سیستم د پلي کولو په شمول، چې د ۲۰۱۹ کال د فبروري په ۱۷ پیل شو، د پام وړ لاسته راوړنو په اړه بحث وکړ. د بیایومیټریک ثبتولو په شمول، د دې سیستم په مرسته اټکل ۴۲۴۲۰۰۰ تنه ملکي کارکونکي د کارکونکو په یوه مرکزي الکترونیکي ډیټابیس کې راجستر شوې، څو په دې سره د بشري سرچینو د پلان جوړونې چارې ښې کړې او د "خیالي" کارکونکو د را منځ ته کیدو او پیښیدو څخه مخه ونیسي.

۴۱. معلوماتو ته د لاسرسي د قانون تطبیق هم دوام درلود. د اپریل په ۲۸، معلوماتو ته د لاسرسي کمیسیون د وزیرانو له شورا، د قانون د حاکمیت او د فساد پر وړاندې د عالي شورا، د ملي تدارکاتو د اداري او د مدنی ټولنې د کاري کمیټې سره د ۲۰۱۸ کال د نومبر د میاشتې د ژنیو د وزیرانو د کنفرانس د ژمنو په تعقیب پیل وکړ. د معلوماتو د مرکزونو د جوړولو په حواله، کمیسیون د حکومتي ادارو لپاره تخنیکي مرستې برابرې کړې او معلوماتو ته د لاسرسي او د عامه شکایاتو د پروسس کولو په اړه یې تخنیکي لارښوونې برابرې کړې.

۴۲. د مۍ په ۲۰، یوناما د فساد پر وړاندې خپل دریم کلنی راپور، چې سرلیک یې"د فساد پر وړاندې د افغانستان مبارزه: د سولې او سوکالۍ لپاره زمینه" ده، خپور کړ.[3] د قانون جوړونې د بدلونونو، د بیلګې په توګه، د اداري فساد پر وړاندې د وقف شوې عدلي مرکز جوړول، د یوه داسې قانون تصویب چې د معلوماتو د ورکونکو څخه ساتنه وکړي او د معلوماتو د لاسرسي د قانون د بیاکتنې په شمول، یاد راپور د اصلاحاتو د ګامونو تدریجي تطبیق مستند کړی. یاد راپور د اداري فساد پر وړاندې د نهادونو د موسساتي جوړښت د لا ښه کولو اړتیا ته اشاره وکړه او د اټکل وړ اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کمیسیون د خپلواکۍ د یقیني کولو په موخه یې د محافظتونو سپارښتنه وکړه. د عامه چاراوکو د شتمنیو د ثبتولو سره د اجابت د پلي کولو او په ملکي خدمتونو، قضا او د لوی څارنوال په دفتر کې د اصلاحاتو د تدبیرونو د دوام په حواله پرمختګ تر سترګو شوی. راپور د فساد ضد عدلی مرکز د هغې وړتیا چې د ۲۰۱۷ کال د جزا په قانون کې یې د فساد ښه تعریف شوې جرمونه په اغیزمن ډول پلي کړي، ستاینه کړېې، خو دې ټکي ته هم اشاره کوې چې د نیونو د حکمونو د اجرا او پلي کولو په برخه کې د افغانستان توان کمزوری دی، چې په نتیجه کې یې د ۲۰ سلنې څخه زیات تورن کسان په مرکز کې د هغوی په غیاب کې محاکمه شوې او د هغوی سزاوې نه دې عملي شوې. راپور همداراز د لوي څارنوال هغو روانو هڅو ته چې موخه یې د ۲۰۱۸ کال د ټاکنو په پروسه کې د فساد تورونو ته ځواب ویل دي، تشریح کړې دي.

۴۳. د ۲۰۱۹ کال په دوهمه ربع کې، د فساد ضد عدلي مرکز (د ۲۰۱۸ کال په دوهمه نیمایي کې د کمښت په تعقیب) په خپل محصول/بازده کې د پام وړ زیاتوالی راوست. د مۍ په ۲۰، د دې مرکز ابتدایي محکمې په ټولټال ۵۷ قضیو کې په کومو کې چې ټولټال ۲۲۳ تورن کسان ښکیل وو فیصلې صادرې کړې، د یاد مرکز د استناف محکمې په ټولټال ۵۲ قضیو کې په کومو کې چې ټولټال ۱۷۳ تورن کسان ښکیل وو فیصلې صادرې کړې، او همداراز سترې محکمې د دې محکمې د استناف د پریکړو پر وړاندې ۳۶ فیصلې په کومو کې چې ټولټال ۱۱۷ تورن کسان ښکیل وو صادرې کړې. که څه هم چې، د یاد مرکز فعالیتونه د قانون د پلي کونکو ارګانونو د نه وړتیا له امله محدود پاته شوې او نه دې توانیدلي چې د نیولو حکمونه او احضاریې پلې کړې. د نیولو او احضارولو د

[3] وګورئ: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_fight_against_corruption_groundwork_for_peace_and_prosperity-20_may_2019-english.pdf .

ټولټال ۱۲۷ حکمونو له جملې څخه چې د ۲۰۱۸ کال د نومبر د ۲۸ نېټې څخه وړاندې د اجرا په تمه و، د دې راپور د لیکلو تر وخت پورې یوازې د نیولو ۱۷ حکمونه او ۴۴ احضاریې پلې شوې دي. د نیولو د ۱۷ اجرا شویو حکمونو له جملې څخه، ۱۱ تورنو کسانو په خپله خوښه ځانونه قانون ته سپارلي او د نیولو ۷ حکمونه د قانون په زور پلې شوې. په ټوله کې، په نوملړ کې د ۱۲۷ کسانو له جملې څخه یوازې یو تن محاکمه شوی او په بند کې د خپل بند موده تیروي. د مارچ په ۱۹، د فساد ضد عدلي مرکز راپور ورکړ چې نورې ۸۲ احضاریې او د نیولو ۴۶ حکمونه صادر کړې چې په دې سره د ټولو نه اجرا شویو حکمونو شمیر ۱۹۴ هغو ته لوړوي. د یاد مرکز ابتدایي محکمې یو پخوانی وزیر د هغه په غیاب کې چې کله هغه د وزیر مرستیال و، د ترسره شویو جرمونو لپاره دوه وارې محاکمه او محکوم کړی، چې په پای کې د اپریل په اتمه ونیول شو او د استناف د محکمې تر دایریدو په توقیف کې ده. د یادونې وړ ده چې د مۍ په میاشت کې د ملي شورا دوه تنه برحاله غړي او یو شمیر مرستیال وزیران د لومړي ځل لپاره د هغوي په نه شتون کې محاکمه او محکوم شوي.

۴۴. عدلي اصلاحاتو سوکه پرمختګ کړی. لکه څنګه چې د فساد ضد ستراتیژۍ ایجابوي، د عدلیې وزارت په دې نه دی توانیدلی چې د حقوقي خدمتونو د ریاست (د حقوقو د ریاست) او د قضایایي دولت د ریاست اصلاحات نهايي کړي، او نه يې د قانون د پراختیا په موخه هغه هڅې پای ته رسولې چې هدف يې د رسمي او غیر رسمي عدلي سکټورونو ترمنځ د بشپړتیا را منځ ته کول دی. د اپریل د ۲۲ څخه د مۍ تر ۴ پورې، یوناما د لوی څارنوال د دفتر د نړیوالو جرمونو د ریاست د ظرفیت لوړولو په اړه تخصصي ارزونه چمتو کړې، چې د ۲۰۱۸ کال د جزا د قانون پلې کول بهتره کړي. په پای کې، د جزا د نوی قانون لاندې د محکومیت د ښه شوې روش د پلې کولو په اړه په ټول هیواد کې د یوې سروې په اساس د ماموریت د سپارښتنو وروسته، د مارچ په ۶، سترې محکمې یو متحدالمال خپور کړ، قاضیانو ته يې لارښوونه وکړه څو د شواهدو پر بنسټ د خپلو پریکړو د نیولو لپاره بنسټ او دلایل تشریح کړي.

**پنځم. بشري مرستې او کډوال**

۴۵. د ۲۰۱۸ کال د روانې اوچکالۍ د اغیز او طبعي حوادثو او شخړو له امله د بې ځایه کیدنې کچې لوړې وې. بې ځایه کیدنې د سختې نیستۍ او بنسټیزو خدمتونو او معیشت د فرصتونو د نشتوالی له امله لا ستونزمنې شوې. د جنوري د لومړۍ او د مۍ د ۱۶ نېټې تر منځ، ټولټال ۱۱۰۰۰۰ کسان د شخړې له امله نوې بې ځایه شوې. تر نیمايي څخه زیات (۵۸ سلنه) د ۱۸ کلونو د عمر څخه ټیټ ماشومان وو. د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله، په ۲۰۱۹ کال کې د شخړو سره تړلې بې ځایه کیدنې ۲۸ سلنه راکمې شوې، خو زیاترو بې ځایه شویو کورنیو خپلو اصلي سیمو ته د راستنیدنې سملاسي امکان نه لید.

۴۶. د مارچ په میاشت کې د طالبانو او د عراق او شام – اسلامي دولت د خراسان څانګې / داعش تر منځ د نښتو په پایله کې د کنړ ولایت په چپه دره ولسوالي کې ټولټال ۲۴۹۰ خلک بې ځایه شوې. هغه کسان چې په خپلو کورونو کې پاته شوې (باور کیږي چې د محلي خلکو نیمايي برخه وي) د راپورونو له مخې د سیمې له پریښودو څخه منع شوې، چې دا د هغوي د خوځښت د ازادي څخه سرغړونه ده ، نا تایید شوې راپورونه ښيي چې جنګیالیو د هغو کسانو کورونه چا چې کورونه پرې ایښې، نیولي. همداراز د بلواګرو تر منځ د شخړو له امله، د ننګرهار ولایت د خوګیانیو او شیرزادو د ولسوالیو څخه نږدې ۹۰۱۶ کسان هم بې ځایه شوې دي. په یادو سیمو کې د داخلي بې ځایه شویو کسانو د تایید چارې روانې دي او له دې امله ښايي په شمیر کې زیاتوالی را منځ ته شي. په دواړو موقعیتونو کې د بې ځایه شویو کسانو سره د حکومت او نړیوالو سازمانونو له خوا د خوړو، نقدو پیسو، ابتدايي امدادي توکو په شمول، ابتدايي مرستې برابرې شوې، خو هغه کسان چې له خپلو اصلي ځایونو څخه بې ځایه شوي تر هغو به خپلو کورونو ته ستانه نه شي څو چې امنیت ښه شوی نه وي.

۴۷. هغه بې ځایه شوې کسان چې په لنډمهاله او موقتو استوګنځایونو کې ژوند کوي د سختو شرایطو سره مخ دي. د هغو کسانو په منځ کې چې د بې ځایه کیدنې په سیمو کې ژوند کوي د شري د ناروغۍ د ۹۸ راپور شویو قضیو تر څنګ، د تیر کال د ورته مودې په پرتله، په هرات ولایت کې، د فبروري د لومړۍ او د اپریل د ۱۵ تر منځ د اوبو د نس ناستې د ناروغۍ په قضیو کې ۳۲۱ سلنه زیاتوالی راغلی. د دې په غبرګون کې، حکومت او نړیوالو بشري همکارانو د ناروغۍ د څارنې، د غبرګون فعالیتونه او د واکسین کمپاینونه زیات کړل.

۴۸.       د پاکستان څخه د ټولټال ۷۳۷۲ نا راجسټر شویو راستنیدونکو ، د ایران د اسلامي جمهوریت څخه د ټولټال ۱۲۷۵۱۰ کسانو او د اروپايي هیوادونو او ترکیې څخه د ټولټال ۳۸۵۰ کسانو په شمول (د کومو له جملې څخه چې ۴۶۰ په خپله خوښه ستانه شوي او ۳۳۹۰ په اجباري توګه شړل شوې)، د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۲۱ او د اپریل د ۳۰ تر منځ، ټولټال ۱۴۰۳۸۱ تنه نا راجسټر شوي کسان او راستنیدونکي کډوال هیواد ته راغلي. د ورته مودې پر مهال، د پاکستان څخه ټولټال ۱۱۵۴، د ایران د اسلامي جمهوریت څخه ټولټال ۴۶۱ او د نورو هیوادونو څخه ۳۴ راجسټر شوي کډوال هیواد ته ستانه شوي. په ۲۰۱۸ کال کې د ورته مودې په پرتله، (د پاکستان څخه ۴۲۱۴، د ایران د اسلامي جمهوریت څخه ۳۲۲ او د نورو هیوادونو څخه ۶۱ وو.) ، افغانستان ته د راستانه شویو راجسټر شویو کډوالو شمیر ۶۴ سلنه کم و. د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او د اپریل د ۳۰ تر منځ، د ایران د اسلامي جمهوریت څخه ټولټال ۱۴۹۸۹۴ ناراجسټر شوي افغانان هیواد ته ستانه شوي چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله (۲۲۷۸۹۰ ) ۳۴ سلنه کموالی ښیي. د ۲۰۱۹ کال د مارچ په ۳۰، د پاکستان حکومت د نږدې ۳۲۷۰۰۰ افغان وګړو لپاره چې د ۲۰۱۹ کال د اپریل تر ۳۰ نیټې پورې په پاکستان کې اوسیږي، د افغان وګړو د کارتونو پروګرام تمدید کړ. افغانستان او پاکستان په ۲۰۱۹ کال کې د ۵۰۰۰۰ کارټ لرونکو کسانو پر راستنیدو موافقه وکړه. د فبروري په میاشت کې، د پاکستان حکومت د یوه کلن ځنډ وروسته د نویو کارتونو په چاپولو پیل وکړ ، او د ۴۷۰۰۰۰ نویو کسانو لپاره یې د ۱۵۰۰۰۰ څخه د زیاتو کارټونو په ورکولو پیل وکړ.

۴۹.       د فبروري د ۱۵ څخه د مارچ تر ۳۱ پورې، د ذهني ټکان یا ټروما ۴۶۴۵۷ قضیو ته رسیدګي شوې، چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۲۳ سلنه زیاتوالی ښیي. د ننګرهار، کندهار او هلمند په ولایتونو کې ، چیرې چې د نښتو له امله درانه تلفات اوښتي او پاملرنې ته د لاسرسي کچه راټیټه شوې، په خاص ډول د ذهني ټکان د درملنې لپاره اړتیا زیاته ده. د راپور ورکولو د مودې پر مهال، د روغتیا د ډګر ۱۵ تنو همکارانو د ټولټال ۳۴۲۵۳ وګړو لپاره، د کومو له جملې څخه چې ۵۹ سلنه یې نجونې او ښځې وي، سلامشورې برابرې کړې.

۵۰.       د راپور ورکولو د مودې پر مهال په هیواد کې د اورښت کچه لوړه خو نامنظمه او بدلیدونکې و. د اوچکالي اغیز لا هم په پراخه پیمانه د احساس وړ ده: د کرنې اصلي فصل د وچکالي له امله د خطر په معرض کې واقع شو ځکه چې د کرنې لپاره تخم موجود نه و. اصلي حاصلات، چې په مۍ او جون میاشتو کې پخیږي، کیدای شي د اصلي محصولاتو جدي کموالی را منځ ته کړي، او د هغه دقیقه اندازه به په راتلونکو اونیو کې اندازه شي. د مارچ تر ۳۱ پورې، نړیوالې ټولنې د وچکالي پر وړاندې د ځوابولو د یو هڅې په حیث، چې د ۲۰۱۸ کال په وروستیو کې پیل شوې، د ټولټال ۳. ۴ میلیون وګړو سره د ژوند ژغورنې مرستې کړې دي. د زیاترو (۹. ۳ میلیون) کسانو سره چې مرستې ترسره شوې، د وچکالي څخه په متاثره شویو سیمو کې اوسیدل. د دې سره سره چې د بادغیس په ولایت کې یو شمیر کورنۍ غیر رسمي سایټونه پریږدي څو خپلو کلیو ته ستانه شي، تمه کیږي یو شمیر خلک په راتلونکو میاشتو کې د هغوي په اصلي سیمو کې د شخړو یا د فرصت د له لاسه ورکولو له امله چې په خپلو سیمو کې حاصلات وکړي، بې ځایه شوې پاته شي. ملګري ملتونه او د بشر پالنې د چارو همکاران به ډیر ژر د هرات او کلا نو د ښارونو سره نږدې د وچکالي له امله د بې ځایه شویو کسانو لپاره خپلې مرستې محدودې کړې او د امدادي هڅو تمرکز اصلي سیمو ته واړوي. د درنو اورښتونو له امله موسمي سیلابونو په ۱۷ ولایتونو کې ټولټال ۲۶۵۳۵۵ کسان متاثره کړې او د مارچ او اپریل په میاشتو کې یې د ۳۵۰۰۰ څخه زیات کورونه ویجاړ او زیانمن کړې. فراه، کندهار او بادغیس تر ټولو زیات متاثره شوې ولایتونه وو. زیاترو متاثره شویو کسانو بیړنۍ مرستې تر لاسه کړې خو د دې سره سره په هلمند او فراه ولایتونو کې د لاسرسي پر وړاندې ځینې ننګونې موجودې وې. په داسې حال کې چې تر ډیره بریده د پیشبیني وړ وو، کلني موسمي سیلابونو د بشر پالنې د اړتیاوو سربیره زیات مالي او زیربنایي زیانونه اړولي.

۵۱.       په ۲۰۱۹ کال کې تر دې دمه د پولیو یا ګوزڼ ۶ پیښې، ټولې د هیواد په جنوبي سیمه کې مستندې شوې ، چیرې چې د لاسرسي په تړاو او د کور په کور واکسین کولو د بندیز له امله چې د ۲۰۱۸ کال د اپریل د میاشتې راهیسې عملي دی، د پولیو د واکسن کولو کمپاینونه د ننګونو سره مخ شوې. د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې، د پولیو د له منځه وړلو په برخه کې د ترلاسه شویو پرمختګونو په خطر کې اچولو سره، دا بندیزونه د پولیو د له منځه وړلو ټولو فعالیتونو ته وغځول شول. په پای کې، د ۲۰۱۸ کال د مۍ د میاشتې راهیسې، د شپږو تصدیق شویو قضیو څخه پنځه هغه یې په هغو ساحو کې چې لاسرسی ورته ستونزمن و، راپور شوې. د هیواد په کچه د معافیت

کمپاین د ۲۰۱۹ کال د اپریل په میاشت کې پیل شو چې د ۲۹ ولایتونو په کچه ټولټال ۹,۹ میلیونه ماشومان تر هدف لاندې نیسي او نږدې ۴۵۰۰۰۰ ماشومانو ته د پورته یادو شویو خنډونو له امله د هیواد په جنوبي، شرقي او مرکزي سیمو کې لاسرسی نه دی شوی.

۵۲. د دې لپاره چې بامیان " د ځمکنیو ماینونو د خطر " څخه پاک ولایت اعلان کړي، د راپور ورکولو د مودې پر مهال، ملګرو ملتونو او شریکباڼو په بامیانو کې ښځینه ماین پاکونکې بیا بسیجې کړې. د ۲۰۱۹ کال د فبروري څخه د اپریل تر میاشتې پورې، ملګرو ملتونو او همکارانو یې ۱,۳ کلومیټره مربع ککړه ځمکه، چې ګومان کیده د اچاودیدونکو توکو د خطرونو له امله ډیره ککړه ده، د ماینونو له خطر څخه پاکه کړې، چې ۱۴ ټولنې ورڅخه ګټه پورته کوي. د پاکستان او ایران له اسلامي جمهوریت څخه د راستنیدونکو کسانو د ساتنې اندیښنو ته د ځوابولو په موخه، د راپور ورکولو د مودې پر مهال د هیواد په کچه ټولټال ۱۴۹۴۴۵ کسانو د ملګرو ملتونو په مالي مرسته د خطر په اړه ښوونې او روزنې ترلاسه کړې دي.

۵۳. په مارچ میاشت کې، د یاغیتوب سره د تړلې جګړې له امله د چاودیدونکو توکو لخوا د وریښو ګواښونو په ځواب کې، ملګرو ملتونو او شریکباڼو یې د کنړ ولایت په چپه دره ولسوالۍ کې د داخلي بې ځایه شویو کسانو په ځواب کې د یوې برخې په حیث، د ۲۰۰۰ زیاتو داخلي بې ځایه شویو کسانو لپاره د چاودیدونکو توکو د خطر په اړه ښوونیزې ناستې برابرې کړې. په مارچ میاشت کې، د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ د چارو ریاست د پریښودل شویو ځای پر ځای شویو ماینونو د پاکولو لپاره د ملي معیارونو مسوده، چې په خپل ذات کې لومړنی نړیوال بشردوستانه معیار دی، چمتو کړې.

۵۴. د لاسرسي په تړاو د ټولټال ۱۳۴پیښو په درلودلو سره چې د جنوري د ۲۸ او د اپریل د ۲۲ تر منځ د ملګرو ملتونو او بشر پالنې همکاران متاثره کوي، د پنځو مرستندویه کارکونکو د وژلو په شمول، ۱۵ تنه مرستندویه کارکونکي تښتیان شوي او نور ۱۵ تنه تښتول شوي. د روغتیایي مرکزونو او روغتیایي کارمندانو او د صحي مرکزونو د اجباري تړلو په اړه رجحان دوام درلود: د لاسرسي محدودیتونو نږدې ۵۰ سلنې روغتیایي مرکزونه، خدمتونه یا پرسونل اغیزمن کړي دي.

۵۵. د ۲۰۱۸-۲۰۲۱ د بشر پالنې د غبرګون د پلان، د ۲۰۱۹ کال برخه ټولټال ۳,۶ میلیونه خلک چې د بشر پالنې مرستو ته اړتیا لري ، مشخصوي. د دې پلان موخه دا ده چې د ټولټال ۵. ۴ میلیون خلکو سره مرستې وکړي او د ۸. ۶۱۱ میلیون امریکایي ډالره بودیجې غوښتنه کوي. د مالي تعقیب د خدمتونو په حواله، د ۲۰۱۹ کال د مۍ تر ۲۳ پورې د بشر پالنې په چارو کې ۳. ۱۲۶ میلیون امریکایي ډالره تمویل یا په ۲۰۱۹ کال کې د بشري غبرګون لپاره د ټول اړین تمویل ۶. ۲۰ سلنه تر لاسه کړې.

**پنځم. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه**

۵۶. حکومت چې ملاتړ یې د نړیوالو همکارانو له خوا کیږي، د مخدره توکو پر وړاندې خپلې مبارزې ته دوام ورکړی. د فبروري د ۱۵ څخه د مۍ تر ۱۵ پورې، د قانون پلې کونکو چارواکو د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ټولټال ۱۱۳۰ عملیات ترسره کړې د کومو په نتیجه کې چې ۱۲۳۶ کیلو ګرامه هیروئین، ۹۴۶ کیلو ګرامه مورفین، ۴۵۳۳ کیلو ګرامه اوپیم، ۳۵۱ کیلو ګرامه میتامفیتامین، ۷۳۹۴۸ کیلو ګرامه چرس، دمیتایل نیډوکسی میتامفیتامین (MDMA) - ۴، ۳ - ۲۷۴۱۹ ټابلیټونه او ۶۲۴۵۴ کیلو ګرامه پیش ماده جامد کیمیاوي توکي، ۱۰۷۲۶ لیټره پیش ماده جامع کیمیاوي توکي او ۱۲۷ کیلو ګرامه تریاک ضبط کړې دي. په ټوله کې د هیروئینو د تولید ۱۱ فابریکې له منځه وړل شوې دي، د دې عملیاتو په ترڅ کې ۱۳۳۸ تورن کسان نیول شوي، او د تریاکو په تړاو ۱۷۰ نقیله وسیلې، ۲۲۴ میله وسلې او ۵ راډیو ګانې ضبط شوې دي. د دې عملیاتو په ترڅ کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دوه تنه افغان پولیس وژل شوي او ۳۸ نور ټپیان شوي.

۵۷. د اپریل د میاشتې د ۱۵ څخه تر ۱۷ پورې، د مخدره توکو پر ضد د مبارزې د پولیسو د تفتیش ګرځنده ټیم په ازبکستان کې د خطر د تحلیل، د تلاشې د تخنیکونو او د مخدره توکو د تشخیص او معلوملو په اړه همکارانو ته روزنې برابرې کړې. د ملګرو ملتونو په ملاتړ، دا ټریننګ په خپل ذات کې هغه لومړنی ټریننګ وو چې د یاد ټیم له خوا د افغانستان څخه د باندې وړاندې شو. د افغانستان حکومت همدارنګه د بدیل معیشت په

سکټورونو کې د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا د مسیر او جهت ورکولو په برخه کې هڅو ته دوام وکړی. د ښځو تر رهبرۍ لاندې د کوچنۍ او منځنۍ کچې لسو تصدۍ ګانو د کار موندلو په یوه نمایش کې چې د ښځو د نړیوالې ورځې د لمانځلو په مناسبت د مارچ په اتمه په کابل کې په لار اچول شوی و ،ګډون وکړ چیرې چې د ۸۰ څخه زیاتو کمپنیو او سازمانونو د بدیل پرمختیایي تولیدات ننداري ته وړاندې کړل.

**اووم. د ماموریت ملاتړ**

۵۸. د مې د میاشتې تر ۱۵، په ترتیب سره د ۷ سلنې، ۵ سلنې ا و ۳ سلنې تصویب شوې کچې په پرتلې سره، د نړیوالو کارمندانو لپاره د ماموریت د خالي پستونو کچه ۸ سلنه، د داخلي مسلکي کارمندانو لپاره ۶ سلنه او د داخلي کارمندانو لپاره ۴ سلنه و. د ښځو کارکونکو تناسب ډیر ټیټ دی، د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۳۴ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۴۰ سلنه، د داخلي مسلکي کارکوونکو لپاره ۱۲ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۸ سلنه ده. د دې لپاره چې د داخلي کارکونکو په منځ کې د جنسیت تناسب ښه شي، ماموریت د ملګرو ملتونو د رضاکارانو یو ملي پروګرام په لار واچاوه څو په داخلي پستونو کې د احتمالي راتلونکو استخدامونو لپاره د وړ ښځینه نوماندانو یو فهرست جوړ کړي. د جنوري د لومړي او د مې د ۱۵ تر منځ، یوناما د سړک له لارې ۲۳۹ ماموریتونه، د هوا له لارې ۲۲ ماموریتونه ترسره کړې او همدارازيي د عامه پوهاوي ۱۳۸۵ معکوس ماموریتونه ترسره کړې چیرې چې د ولسوالیو چاروکو د یوناما د ساحوي دفترونو څخه لیدنه کړې.

**اتم. کتنې**

۵۹. د ۲۰۱۸ کال کوچنۍ اختر د بې سارې یو اړخیز اوربند یو کال وروسته، هغه هیلې چې تاوتریخوالی به له منځه یوسي، لا هم تحقق نه دی موندلی. زه د طالبانو او متحده ایالتونو تر منځ د دواړو، روانو خبرو اترو سره سره او د افغانانو تر منځ د ډیالوګ د څنډ او دوامداره جګړو له امله ډیر خواشینی یم. که څه هم چې د تلفاتو په برخه کې د نه منلو وړ ارقام او د راتلونکې سوکالۍ لپاره له لاسه وتلي فرصتونه د هرې ورځې په تیریدو سره زیاتیږي، دا خندونه یوه یادونه را منځ ته کوي چې د سولې په لور پرمختګ یو روان بهیر نه بلکې پیچلی بهیر دی. د یوه بیړني نوې شوې احساس سره، زه د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ د مستقیمو مذاکراتو د پیلیدو غوښتنه کوم چې په هغه کې ټولې داخلي حوزې شاملې وي. ملګري ملتونه د جګړې د سوله ییز حل د هڅو په موخه د مرستې لپاره چمتو دي.

۶۰. د دې لپاره چې سوله تل پاتې وي، سوله باید په یوه پراخه موافقه ولاړه وي. ښځې باید د سولې په پروسه کې بشپړه ونډه ولري او باید د ټولو بشري حقونه تضمین شي. دتیرو کلونو ټولنیزې لاسته راوړنې باید وساتلې شي او تقویه شي. له دې وړاندې، افغانان په بیلابیلو غونډو کې راټول شوې او د افغانانو تر منځ د خبرو اترو د پایلې لپاره یې خپلې هیلې څرګندې کړې. په دې خبرو اترو کې په تاوتریخوالي کې چټک کمښت؛ د ښځو، اقلیتونو او نورو زیان منونکو ډلو د لاسته راوړنو ساتنه؛ د قانون لاندې د بنسټیزو ازادیو او مساوي تحفظ تضمین ؛ او په ملي او محلي حکومتدارۍ کې ګډون شامل دی. که څه هم چې ځینې وختونه دا کار خورا سخت دی، د ملي توافق د جوړولو بهیر دوامدارو هڅو ته اړتیا لري څو د مشارکت کچه پراخه کړي او د ټولنې لپاره د یوه احتمالي جوړجاړي د منلو لپاره زمینه برابره کړي.

۶۱. په افغانستان کې د خبریالانو او رسنیو د کارکونکو پر وړاندې دوامداره تاوتریخوالی د اندیښنې وړ دی او د بیان د ازادۍ او معلوماتو ته د لاسرسي حقونه د خطر په معرض کې واقع کوي کوم چې د یوې پراخې ټولنې پایه او اساس جوړوي. د شخړې ټولې خواووې باید د خبریالانو، رسنیو د کارکونکو او بشري حقونو د مدافعینو د ساتنې او خوندیتوب لپاره داخلي او نړیوال معیارونه په پام کې ونیسي او د مدنې ټولنې د فضا د ودې او ساتلو لپاره اقدامونه اتخاذ کړي. زه د سولې په بهیر کې د ښځو د ګډون او د ښځو د حقونو د ترویج او ساتنې او د افغانستان د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان د دوهم پړاو د پراختیا لپاره د افغانستان د حکومت د دوامدارو هڅو ستاینه کوم.

۶۲. د افغانستان په اړه د ۲۰۱۸ کال د وزیرانو د ژنیو په کنفرانس کې یو پیاوړی پیغام دا وه چې سوله، دولت جوړونه، او د اصلاحاتو پر بنسټ پرمختیا متقابلا ځواک بخښونکې او اړینه ده. دا عناصر د ودې د کچې د رسیدو

لپاره خورا مهم دي او کولای شي د هیواد مخ پر ودې وګړو لپاره فرصتونه رامنځ ته کړي او د سولې یوه احتمالي حل لار تقویه کړي. د سیمه ایزو همکارانو سره د افغانستان د حکومت فعاله همکاري او د اقتصادي ودې لپاره د یوه بنسټ په توګه د سیمه ییز ارتباط/نښلون سره د حکومت ژمنه ډیره د هڅونې وړ ده. زه د افغانستان په ټولو ګاونډیانو غږ کوم څو د همکارۍ لپاره له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي او د یوې سوکاله او سوله ییزې راتلونکې په جوړیدو کې خپل کردار ولوبوي.

۶۳. زه د ۲۰۱۸ کال د اوږدمهاله پارلماني ټاکنو د پایلو د نهایي کیدو او د ۲۰۱۱ کال راهیسې د لومړي ځل لپاره د نوي پارلمان د پرانیستو هرکلی کوم. که څه هم، چې په ورستیو شیبو کې د نا ازمویل شوې بایومیټریک ټیکنالوژۍ معرفي کولو، د رای شمیرلو اوږده بهیر او د پایلو په اړه د اختلاف نظرونو د ټاکنیز مدیریت د نهادونو اعتبار په جدي توګه زیانمن کړ او په ټاکنیزه پروسه یې د خلکو باور راکم کړ، د سیاسي سیسټم د مشروعیت لپاره د اعتباري ټاکنو د اهمیت په پام کې نیولو سره، تمه لرم چې د حکومت، سیاسي مشرانو، ګوندونو، څارونکو ډلو او همدارنګه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون په شمول، د ټاکنو افغان شریکباني به هغه ترلاسه شوې مشقونه چې د پارلماني رایو څخه ترلاسه شوې ، د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو په چمتووالي کې چې تمه ده د سپټمبر په ۲۸ ترسره شي، سره یو ځای او مدغم کړي.

۶۴. د ټولشموله ، جامع او باوري ټولټاکنو ترسره کول به یوه ستونزمنه ننګونه وي. د ټاکنو مهالویش خورا لنډ دی؛ سرته رسول به یې ریښتینو او پر وخت پریکړې نیولو او همداراز د مقصد یووالي ته اړتیا ولري څو بیلابیلو تخنیکي او امنیتي ننګونو ته ځواب ووایي. په موازي ډول، په ټاکنیزه پروسه د اعتماد د را منځ ته کولو په خاطر باید ټول اړوند اړخونه په ګډه د یو بل سره کار وکړي. افغان وګړو لا له وړاندې په تیرو ټاکنو کې د خپل ژوند په خطر کې اچولو سره د خپلو سیاسي حقونو د ډیموکراتیک تمرین په اړه خپله ژمنتیا ښودلې. په دې نازک وخت کې، زه یوځل بیا ټینګار کوم چې ټاکنې د ټولو شریکبانو ګډ مسوولیت دی. د حکومت او اپوسیزیون مشران، سیاسي ګوندونه او نوماندان هڅول کیږي چې د ټاکنیز چمتووالي، کمپاین کولو او رای ورکولو لپاره د یوه وړ چاپیریال د رامنځ ته کولو سره مرسته وکړي چې وکولای شي د ټاکنیز مدیریت د ادارو د پریکړو او عملیاتو په برخه کې د سیاسي لاسوهنې څخه مخنیوی وکړي، او په ټولټاکنو پورې د اړوندو اصلاحاتو او پلي کولو په هڅو کې په رغونکي ډول ښکیل شي.

۶۵. وسله والې نښتې همدارنګه د افغان ملکي وګړو د زیاتو تلفاتو باعث کیږي. د دولت ضد عمناصرو له خوا د ملکیانو دوامداره هدف نیول، په تیره بیا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له لارې، د ملکي تلفاتو د لوړ شمیر سره یو ځای چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا هوایي بریدونو او د تلاشي عملیاتو ته منسوبیږي، د افغانستان د خلکو، په تیره بیا د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی څرګندوي. زه په شخړه کې د ټولو ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کوم چې د نړیوال بشردوستانه قانون او د بشري حقونو تر قانون لاندې د خپلو ژمنو درناوی وکړي او د رای ورکوونکو د نوم لیکنې په راتلونکې بهیر او ټولټاکنو کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره سمدستي اقدامونه تر لاس لاندې ونیسي. د کاونټرپارټ د نړیوالې موسسې پر وړاندې ، چې یوه نړیواله غیر دولتي موسسه ده او تمرکز یې د دیموکراتیک کولو، مدني ښکیلتیا او د مدني ټولنې پر ملاتړ دی، د طالبانو وروستی برید په هیڅ ډول د توجیه وړ نه دی.

۶۶. د بشردوستانه لاسرسي پر وړاندې محدودیتونو، پر روغتیایي مرکزونو او پرسونلو زیاتیدونکو بریدونو او د ګوزڼ د واکسین کولو په کمپاینونو دوامداره محدودیتونو د هغو کسانو زیانمنتوب او کړاو چې مرستو ته ضرورت لري زیات کړی. د شخړې ټولې خواووې باید د بشر پالنې د لاسرسي او د روغتیایي کلینیکونو او پرسونل د خوندیتوب په تړاو خپلې نړیوالې ژمنې په پام کې ونیسي او ورته درناوي وکړي.

۶۷. زه د شخړې د اړوندو توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند ، او د شخړې اړوندو توقیفیانو د سلنې په برخه کې د ټولیز کموالي په اړه چې د حکومت تر ولکې لاندې توقیف ځایونو کې د شکنجې او/یا ناوړه چلند په اړه راپور ورکوي د هغو قانوني او پالیسي اقدامونو یادونه کوم چې د مسلې د ځوابولو په موخه د حکومت له خوا په پام کې نیول شوې. د شخړې د اړوندو توقیفیانو د چلند په اړه د یوناما او بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا د وروستیو راپورونو په حواله، که څه هم چې د احتساب تدبیرونه د اړوندو نړیوالو

معيارونو په تناسب کم وو، خو لا هم د دريو څخه يوه توقيفي د شکنجې او ناوړه چلند سره د مخ کيدو په اړه اتباري راپورونه برابر کړي. د پالیسې ګانو د موثره تطبيق څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر بايد هڅې لا زياتې شي څو د ناوړه چلند او شکنجې سره مبارزه وشي.

۶۸. د حکومتي ادارو د ريښتينولۍ او احتساب څخه ډاډ حاصلول د هغوي د فعاليت او مشروعيت لپاره مهم دي. د فساد د تعقيب لپاره د ميکانيزمونو د پياوړي کولو په شمول، حکومت د خپلې سيمه ييزې حکومتولۍ ، عامه اداري او فساد پر وړاندې د مبارزې د اجنډا د پر مخ بيولو لپاره مهم ګامونه اخيستي دي. دا خورا مهمه ده چې د اداري فساد پر وړاندې د ادارو موسساتي جوړښت پياوړی شي او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې نوې اداره د فساد پر وړاندې د ملګرو ملتونو د کنوانسيون د ۶ مادې د اړتياوو سره په سمون کې د مناسبو سرچينو په درلودلو سره په خپلواکه توګه کار وکړي. د هيواد د قانون د پلي کونکو ادارو ظرفيت ښه شي ، او د عدلی اصلاحاتو چټکولو ته لومړيتوب ورکړل شي. د لا شفافيت او همداراز د قانون لاندې د ساتنې او مساوي چلند لپاره د پراخو غوښتنو د پوره کولو لپاره دا اقدامات اړين دي.

۶۹. زه په افغانستان د ملګرو ملتونو د کارکونکو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړې استازي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي د مشر ښاغلي تداميچي ياماموتو څخه د افغانستان د خلکو سره د مرستې په برخه کې زموږ د ژمنو د ترسره کولو په برخه کې په دې ستونزمنو شرايطو کې د هغوي د دوامداره تعهد څخه مننه کوم.